مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۱/۱۲/۰۳

# په افغانستان کې طالبان د واک پر سر د جګړې په حال کې

د جرمني لومړنی دولتي ټلویزیون آ، ار، ډي د پاکستاني الصله بریتانوی، خبریال، لیکوال او څېړنوال «په هندوکښ کې نوې جګړه او افغانستان د کړنګ په غاړه او لویدیځ» غوره شوي کتابونه دي.

مرکه کونکي په نوي ډهلي کې د جرمني لومړي ټلویزیون ستیدیو خبریاله اغلی سبیلي لینټ:
ژباړه: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

د افغانستان له نیولو وروسته د طالبانو په منځ کې د واک پر سر جګړه پیل شوي ده.
داعش او نورې وسله والې ملېشې هم په هېواد کې فعالې شوي دي، دا خبره لیکوال احمد رشید کړې ده او هغه تشریح کوي، چې لوېدیځ له دې حالته کومې پایله ترلاسه کولې شي.

## د أ، ار، ډي خبریالۍ پوښتنه: آیا په افغانستان کې د طالبانو تر منځ د واک پر سر جګړه روانه ده؟

د احمد رشید ځواب: زه فکر کوم چې طالبان د واک پر سر د جګړې په حال کې دي. دا حالت لا د مخه د انتقالي حکومت د کابینې په جوړښت کې راڅرګند شو - په هغه ډول چې سختدریځو د طالبانو حکومت په لومړي سر کې خپل ځانونه ځای په ځای کړل او منځلاري طالبان یې یوې خوا ته ټیل وهل.
ملاعبدالغني برادر په دوحه کې د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د یوه هوکړه لیک په اړه خبرې اترې ترسره کړې دي. خو هغه هېڅکله په خپله کابل کې د بهرنیو پلاوي سره نه رابنکاره کیږي. په داسی حال کې چې هغه په حقیقت کې د لومړي وزیر مرستیال دی.
حقانیان په کابینه کې (هغوی د یوې اوږدې شبکې مشري کوي، چې دوی ترهګریز بریدونه یې چمتو او ترسره کړي دي، دا د ټلویزیون مدیر یادونه ده) بر لاسی یا لوړ لاس لري. د طالبانو منځلاري ځواکونه د وژل کیدو او یا د زنداني کیدو وېره لري. دوی په هېڅ ډول د خپل ځان ربښتینی محافظت نه لري. دا هم یو لوی لامل دی، چې افغانستان له لویدیځو هیوادونو څخه مستقیمې بهرنۍ مرستې نه شي ترلاسه کوي.

## د أ، ار، ډي خبریالۍ پوښتنه: کله چې د طالبانو سختدریځه څانګه دومره ستر اغېز ولري، د دې پایلې به څه وي؟

د احمد رشید ځواب: منځلاري طالبان د خبرو اترو لپاره ډېر لیواله دي. سرې کولي شي پر دوی باندې فشار هم راوړي. سختدریځي دا در سره نه مني. خو دوی هغه کسان دي، چې د واک واړې یا د واک تاروته په لاسونو کې لري. امریکایان او د ناټو هیوادونه د حقانیانو سره، کوم چې د ترهګرو په نوملړ کې شامل دي، له هغوي سره اصلي ستونزه لري.
امریکا د دې ډلې مشر سراج الدین حقاني پر سر لس میلیونه ډالره جایزه ایښودلې ده (د افغانستان د کورنیو چارو وزیر، د ټلویزیون مدیر یادونه) هغه د همدې نوملړ لسټ د حکم له مخې، د لسګونو ملکي افغانانو او پوځیانو په وژنه او د بهرني اتباعو د تښتولو مسوول ګڼل کیږي. که د حقاني ډله لا هم په کابینه کې شتون ولري او په واک کې همداسې پاتې وي، څنګه به د طالبانو حکومت پر نړیوال کچ ومنل شي ؟

"په بهر کې د تروریستي اعمالو په وړاندې کوم اقدامات نه دي تر سره شوي"

د أ، ار، ډي خبریالۍ پوښتنه: په افغانستان کې یو شمیر ځانمرګي بریدونه تر سره شوي دي. د اسلامي دولت په نوم سیمه ایزې څانګې، داعش- خراسان، مسؤلیت په غاړه اخیستلې دی. تاسو دا څنګه ارزوئ؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د احمد رشيد ځواب: داعش-خراسان پخوا په افغانستان کې يوه ډېره وړه او بې ارزښته ډله وه. کله چې طالبانو په دوحه کې له امريکا سره د وتلو تړون لاسليک کړ. داعش وايي، چې په دې کار سره طالبانو د جهاد له اصولو سره خيانت وکړ او له لويديځ او ناټو سره يې د ټلوالۍ تړون لاسليک وکړ. د داعش خراسان ګڼ شمېر ځانمرګي بريدګرو د حقاني ډلې څخه روزنه ترلاسه کړې ده. د دوی شبکه په افغانستان کې د ځانمرګو روزلو تر ټولو ستره فابريکه ده. دوی يوازې ځوانان نه روزي چې ځانمرګي بريدونه ترسره کړي. دوی بمونه او ماينونه هم جوړوي او هرهغه څه چې تاسو د بريد لپاره ورته اړتيا لري. ظاهرآ داسې ښکاري چې د طالبانو يوه برخه د داعش پر ضد اقدامات کوي، خو بله برخه يې له داعش سره ګډ کار کوي او په ځانمرګو بريدونو کې د ځانمرګو لوجيستيکي ملاتړ هم ترسره کوي. تر اوسه طالبان په دې نه دي توانيدلي، چې د داعش د زياتيدوکي فعاليتونو مخه ونيسي.

## د آ، ار، ډي خبريالۍ پوښتنه : نورې وسله والې ډلې په افغانستان کې څه رول لوبوي؟

د احمد رشېد ځواب : په افغانستان کې لسګونه افراطي ډلې شته چې ډېرې فعالې دي. د پاکستان څخه ترهګري ډلې شته، په پاکستان کې داسې ډلې شته چې ډېرې ځواکمنې دي. په دې ډلو کې پاکستاني طالبان هم شامل دي، چې په افغانستان کې يې پناه اخيستلې ده. د منځنۍ اسيا له هېوادونو ازبکستان او تاجکستان څخه وسله والې ډلې - او همدارنګه هغه جنګيالي چې په سوريه کې جنګېدلي او هلته يې د جګړې تکتيکونه زده کړي او بمونه جوړوي. اويغوران هم شته. د چين حکومت په چين کې اويغوران ځوروي او ډيری يې د بيا روزنې زده کړې لپاره زندانونو ته ليږي - او له طالبانو غوښتنه کوي، څو په افغانستان کې اويغوريان چين ته وروسپاري. دوی به احتمالا هلته اعدام شي. طالبانو ډاډ ورکړی، چې هېڅ ډلې ته به اجازه ورنه کړي، چې له افغانستانه د ګاونډيو هېوادونو پر ضد ترهګريزه بريدونه ترسره کړي. خو تر اوسه د طالبانو له خوا د دې کار د مخنيوي لپاره هېڅ کوم اقدام نه دی شوی، څو د دې محنيوي وشي. له دغو ډلو څخه ډيری يې له طالبانو سره جنګيدلي او د هغوی متحدين دي.

``د طالبانو په رسميت پيژندلو پوښتنه بايد وځنډول شي``

د آ، ار، ډي خبريالۍ پوښتنه : که حقاني شبکه په بشپړه توګه واک په لاس کې واخلي، د افغانستان څخه به څه جوړ شي؟

د احمد رشيد ځواب: زه فکر کوم، چې خلک به له لوږې مړه شي. زه دا نه وينم، چې لويديځ يا نور لوی قدرتونه د اړتيا وړ بشردوستانه مرستې چمتو کړي، کله چې طالبان لا نوره ډير اورپکي او جنګيالي وګرځي.

زه هيله من يم، چې طالبان په دې وپوهيږي، ترڅو هيواد ته نور اړين خوراکي توکي ورشي. موږ لا د مخه د کډوالو يو سيلاب ليدلي دی، خو که بشري مرستې پای ته ورسيږي، موږ به يو بل سيلاب هم ووينو. چې دوی به بيا د اروپا په لور لاره ومومي کړي. پاکستان او ايران تر ډيره بريده خپلې پولې تړلي دي او د نورو کډوالو منلو څخه ډډه کوي.

زه په دې هکله ټينګ باور لرم، چې لويديځ بايد له طالبانو سره خبرې اترې وکړي، ترڅو بشري مرستې چمتو کړل شي. د طالبانو د رژيم رسميت پيژندلو پوښتنه بايد وځنډول شي، که څه هم طالبان يې غوښتنه کوي او پر نړيوال کچ کنګل شوي پيسې بايد ور ازادۍ کړل شي، تر څو د ډاکټرانو، روغتياپالانو، ښوونکو او دولتي مامورينو معاشونه، کوم چې د مياشتو راهيسې پاتې دي، اجرا شي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ